**بسم الله الرحمن الرحيم**

## له تاسو څخه هېڅوک باید په داسې حال کې وفات نشي، چې پر الله نېک گومان ونه لري!

**(ژباړه)**

پر مسلم باندې د نووي په شرح کې د «**لايموتن أحدكم إلا وهو يحسن بالله الظن**» تر باب لاندې په کم بدلون سره داسې راغلي: جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلت څخه درې ورځې وړاندې مې له هغه صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل، چې ویې فرمایل:

«**لايموتن أحدكم إلا وهو يحسن بالله الظن**» (رواه مسلم)

***ترجمه:*** *له تاسو څخه هېڅوک باید په داسې حال کې وفات نشي، چې پر الله نېک گومان ونه لري!*

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې خبرې (**لايموتن أحدكم إلا وهو يحسن بالله الظن**) او د يو بل روايت (**إلا وهو يحسن الظن بالله تعالى**) په اړه علماوو داسې ويلي دي: انسان باید د مرگ پرمهال د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه ناهیلی نشي؛ بلکې د هغه رحمت ته باید هیله‌من وي.

علماوو پر الله سبحانه وتعالی نېک گومان داسې تعریف کړی دی: «بنده باید گومان وکړي، چې الله سبحانه وتعالی به رحم پرې کوي او ببښــنه به ورته کوي.» همدرانگه علماوو ویلي: «د روغتیا په حالت کې انســان باید د خوف او رجاء (وېرې او هیلې) په منځ کې په مســاوي توگه ژوند وکړي». ويل شــوي چې خوف ته باید د رجاء په پرتله لومړيتوب ورکړل شــي؛ ځکه د مرگ د نښــو په ځرگنـدېدو او یـا د بوډاتوب پـه وخـت کې رجـاء د خوف په پرتله ډېرېږي. له خوف څخه موخه دا ده، چې له گناهونو او بدیو ځان وساتل شـي او له عبادت او نېکو عملونو سـره مینه او علاقه ډېره شي؛ مگر انسان د عمر په وروستیو کې کمزوری کېږي او دا ډول کارونه نشــي ترســره کولی. نو ځکه د ناروغۍ په حالت کې لازمه ده چې انســان پخپله کمزروۍ اعتراف وکړي او پر الله ســبحانه وتعالی نېک گومان ولري.

موږ باید د ژوند په ټولو چارو کې پر الله سبحانه وتعالی نېک گومان ولرو، ځکه نېک گومان عبادت دی. ابن مسعود رضي الله عنه وايي: «قسـم پر هغه ذات چې يوازې هغه د عبادت وړ دی، بنده چې پر الله سـبحانه وتعالی هر ډول نېک گومان کوي، الله تعالی همغه شی ورکوي؛ ځکه خیر د الله سبحانه وتعالی په بلاکیف لاس کې دی».

همدارنگه په حدیث شـريف کې یادونه شـوې، چې انسـان باید د مرگ پر مهال پر الله سبحانه وتعالی نېک گومان ولري. د ژوند د سـختیو، سـتونزو، پورونو او حتی د دعا کولو په حالت کې پر انسـان لازمه ده، چې پر الله سبحانه وتعالی نېک گومان وکړي؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «کله چې الله یادوئ، باوري اوسئ چې ستاسو دعا به قبلېږي.» نو کله چې د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې دعا کوئ، پر هغه سـبحانه وتعالی نېک گومان ولرئ، ترڅو ستاسو دعا قبوله شي. زه پر الله سبحانه وتعالی نېک گومان لرم، ځکه هغه د هرې ستونزې ښه حلوونکی دی.

موږ د توبې په حالت کې څومره اړتیا لرو، چې پر الله سبحانه وتعالی نېک ګومان ولرو؟

ابو هریره رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایتوي، چې هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل، چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**«أذنب عبد ذنبا، فقال: اللهم اغفر لى ذنبى، فقال تبارک وتعالى: أذنب عبدى ذنبا فعلم أن له ربا یغفرالذنب ویأخذ بالذنب. ثم عاد فأذنب، فقال: أى رب اغفر لى ذنبى. فقال تبارک وتعالى: عبدى أذنب ذنبا فعلم أن له ربا یغفرالذنب ویأخذ بالذنب. ثم عاد فأذنب، فقال: أى رب اغفر لى ذنبى. فقال تبارک وتعالى: عبدى أذنب ذنبا فعلم أن له ربا یغفرالذنب ویأخذ بالذنب.أعمل ماشئت فقدغفرت لک»** (رواه مسلم)

***ژباړه:*** *یوه بنده ګناه وکړه او ویې ویل: اې ربه، زما ګناه وبښه! الله تعالی وفرمایل: زما بنده ګناه وکړه او پوه شو چې داسې رب لري، چې ګناهونه بښي او په ګناه جزا هم ورکوي. وروسته یو ځل بیا د ګناه مرتکب شو او ویې ویل: اې ربه، زما ګناه وبښه! الله تعالی وفرمایل: زما بنده ګناه وکړه او پوه شو چې داسې رب لري، چې ګناهونه بښي او د ګناه له امله جزا ورکوي، وروسته یې بیا ګناه وکړه او ویې ویل: اې ربه، زما ګناه وبښه! الله تعالی وفرمایل: زما بنده ګناه وکړه او پوه شو چې داسې رب لري، چې ګناهونه بښي او د ګناه له امله جزا ورکوي، هر څه چې غواړې ترسره یې کړه، زه دې وبښم.*

پر الله سبحانه وتعالی بد ګومان کول له نېک ګومان سره په ټکر کې دی او دا ډېر خطرناک دی. ځوک چې پر الله سبحانه وتعالی بد ګومان وکړي، حرام کار یې ترسره کړی دی؛ یعنې پخپل دغه بد ګومان سره له الله سبحانه وتعالی څخه شکایت کوي او په داسې یې بیانوي: زما رب پر ما ظلم کړی او هغه څه یې ماته نه دي راکړي، چې زه یې وړ یم.

ځوک چې ګومان کوي چې الله سبحانه وتعالی ورته نصرت نه ورکوي او ګومان کوي چې الله تعالی امت له دغه ناوړه حالت څخه نه وباسي او له خپلې نېکۍ څخه یې لرې کوي؛ په حقیقت کې دا کس هغه څه ته داخل شوی، چې اسلام منعه کړې دي. الله سبحانه وتعالی خپلو انبیاوو ته په داسې حال کې نصرت ورکړی، چې دوی له سخت حالت سره مخ وو. دا د نړۍ یو سنت دی، چې نصرت او خیر د دغه امت لپاره له سختۍ، رنځ او ستونزې وروسته راځي، نه دا چې په اسانۍ دې ترلاسه شي. موږ پر الله تعالی ایمان راوړی، پر هغه مو توکل کړی او نېک ګومان پرې لرو؛ نو باوري یو چې نصرت ثابت او نږدې دی او په دې هم باور لرو چې خلیفه به له اسمان څخه د ملایکو په مرسته ځمکې ته رانشي، چې موږ دې ورته په تمه شو؛ بلکې موږ باید پخپله د عمل ډګر ته داخل شو، ځکه الله تعالی تر هغه پورې د هېڅ امت حال نه بدلوي، ترڅو چې پخپله په ځان کې بدلون را نه ولي.

کوم ګومان چې موږ یې پر الله سبحانه وتعالی کوو، هغه دا دی چې الله تعالی به د دین د نصرت په لاره کې د کار کولو پایله په لاس راکوي او د بشري ژوند واقعیت دا په ډاګه کوي چې هغه وخت اوس رانږدې شوی دی. ولې به نه را نږدې کېږي، په داسې حال کې چې پر مسلمانانو یرغل کول هره ورځ، هر ساعت او هره دقیقه ډېرېږي؟ ولې به نه را نږدې کېږي، په داسې حال کې چې مسلمانان د هغو کسانو په لار ګامونه ږدي، چې د خلافت د راتګ لپاره کار کوي؟ ولې به نه را نږدې کېږي، په داسې حال کې چې

امت په شام او نور خاورو کې د توحید بیرغ پورته کړی او د قرآن د حاکمیت غوښتنه کوي؟ دغه ټولې نښېنښانې امت د هغې طریقې په لوري بیایي، چې د خلافت په بیا راتګ سره به ډېر ژر مسلمانان له یوه رښتیني بدلون څخه برخمن کړي.

اې ربه، پر تا مو ایمان راوړی، پر تا مو توکل کړی او پر تا نېک ګومان کوو! اې ربه، موږ هیله لرو چې خپله ژمنه دې پوره کړې!

اې ربه، د نبوت پر منهج راشـده خلافت په چټکۍ سـره زموږ په برخه کړې، ترڅو د مسـلمانانو درد ارام او له ظلم او تېري څخه یې خلاص کړي! اې ربه دا ځمکه دې د خپل رحم او کرم په نور منوره کړه! آمین آمین!